



OPEN ACCESS

This work is licensed under a
Creative Commons Attribution 4.0
International License

**AL DALILI**
Bi-Annual, Multilingual (Arabic, Balochi, Brahui, English, Pashto, Persian, Urdu)
ISSN: 2788-4627 (Print), ISSN: 2788-4635 (online)
Project of **RAHATULQULOOB RESEARCH ACADEMY,**
Jamiat road, Khiljiabad, near Pak-Turk School, link Spini road, Quetta, Pakistan.
Website: www.aldalili.com
Approved by Higher Education Commission Pakistan
Indexing: » IRI (AIOU), Tahqeeqat, Euro pub, MIAR.

## TOPIC

# مولانا عبید الله سندهي او افغانستان

# Movlana Ubaidullah Sindhi and Afghanistan

*AUTHOR*

1. Dr. Abdul Rauf Rafiqui, Director, Khan Shaheed Chair, Pakistan Study Center, University of Balochistan, Quetta, Pakistan.
   Email: abdulraufrafiqui@yahoo.com

**How to Cite:** Dr. Abdul Rauf Rafiqui. (2023). PASHTO: مولانا عبید الله سندهي او افغانستان : Movlana Ubaidullah Sindhi and Afghanistan. *Al-Dalili*, *5*(1), 01–11. Retrieved from https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/114

*URL:* https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/114
Vol. 5, No.1 || July–December 2023 || PASHTO-Page. 01-11
Published online: 10-08-2023

# مولانا عبید الله سندهي او افغانستان

# Movlana Ubaidullah Sindhi and Afghanistan

عبدالرؤف رفیقي

**ABSTRACT:**
Molana Ubaidullah Sindhi was a renowned religious and political leader of the region. He played an important role in religious and political history of the region during British colonial period. When Germany and Australia formed a temporary Government of India in Kabul on 2nd December 1915, Shaikh ul Hind Sent Molana Sindhi to Kabul to represent the Islamic Identity in the noted Government. Molana defended Muslim rights successfully and became the interior minister of that temporary Government. At that time, Kabul was center of different political Activities against the British rule in India numerous Muslim leaders were there in Kabul and Molana Sindhi played a key role in the Independence of Afghanistan and to windup British rule in the Subcontinent.
**Keywords:** Afghanistan, Molana Ubaidullah Sindhi, British colonial period, religious and political leader.

د جمعې په شپه په دولسم محرم ۱۲۸۹ ه ق مطابق لسم مارچ ۱۸۷۲ په سیالکوټ کې د سیکهانو په یوه کورنۍ کې د پلار په پس مرګې یو ماشوم وزیږېدی د څو خویندو دغه یو ورور د خویندو او غمجنې، کونډې مور د ژوند اسره جوړ شو، په ډېر ناز و نواز لویدی ماما یې د ډېره غازي خان په جام پور کې پټواري وو، له ځانه سره یې بوتلی جام پور ته، هلته یې په ۱۸۷۸ کې په ښوونځۍ کې داخل کړ[1]، دلته په جامپور کې د مسلمانانو اکثریت و، او د دې ځای مسلمانانو بیا د تصوف او طریقت سره ډېر اوږده پخواي سابقه درلوده. جام پور له یوې خوا پښتونخوا ته ورڅرمه وو او و بلې خواته و سندھ ته[2]، دغه ماشوم په دغه شپو کې تحفته الهند او د مولانا اسماعیل شهید تقویت الایمان مطالعه کړه، دومره اغېزه یې پر وکړه، چې اسلام ته مائل شو چې له جام پوره په پنځلس کلنې کې یې په ۱۵ اګست ۱۸۸۷ اسلام قبول کړ، د تحفته الهند د لیکوال عبید الله نوم یې ځان ته غوره کړ، او پر ځان یې اسلامي نوم عبید الله کښېښو، او د کورنۍ له بېرې چې مذهب دي ولې بدل کړ له جامپوره سندھ ته راغلی او د سندھ په نسب سندهي مشهور شو، عبید الله سندهي په دغه ۱۹۸۷ کې د حافظ محمد صدیق بهرچونډې په لاس بعیت وکړ بیا په ۱۹۸۸ د مولانا غلام محمد صاحب څخه د خانپور سره نژدې په دین پور کې زده کړې تر لاسه کړې. څه وخت د خانپور په مدرسه او څه وخت د رام پور په مدرسه عالیه کې وو په ۱۳۰۷ ه ق کې د شېخ الهند مولانا محمودالحسن په شاګردي کې راغلی. دلته یې هدایه، تلویح، مطول، شرح عقائد، مسلم الثبوت وویل د مولانا سید نظیر حسین صحیح بخاري او ترمذي درس کړه. بیا یې په ۱۸۹۰ کې د مولانا رشید احمد ګنګوي څخهٔ زده کړې وکړې.بیرته په فروري ۱۸۹۱ کې سندھ

ته راغلی دلته د مولانا تاج محمود صاحب سره په امروټ ضلع سکهر کي تر ۱۸۹۷ پوري ډېره سو دلته یې د یوې پښتنې ښځې سره واده وسو چي د اسلامیه سکول سکهر د ماسټر مولوي محمد عظیم خان یوسفزي لور وه. چي مولانا تاج محمود ور و غوښتله. دلته یې د واده پس مولانا سندهي لره خپله مور هم راوسته، چي تر مرګه پوري له دۀ سره د دۀ په کور کي د خپل سکهـ مذهب مطابق اوسېده. په ۱۹۰۱کي یې په ګوټهـ پیر جهنډا ضلع حیدر اباد سندهـ کي مدرسه دارالاز شاد تاسیس کړه، په ۱۹۰۹ کي بیرته د یوبند ته ولاړ او د جمعیت الانصار تادوا یې کښېښنو، په ۱۹۱۲ کي یې په ډهلي کي نظارة المعارف جوړ کړ په اګست ۱۹۱۵ کي بې د هجرت پرېکړه وکړه په اکتوبر ۱۹۱۵ کي کابل ته راغی په ۲۲ اکتوبر ۱۹۲۲ ماسکو ته ستون سو هلته له ۱۰ نومبر ۱۹۲۲ تر ۲۳ جولائي ۱۹۲۳ ډېره و بیا ترکې ته ولاړ. تر څلورو پنځو میاشتو په انقره کي و، بیا په استنول کي ۱۹۲۳ د پایي څخه تر جون ۱۹۲۶ پوري په ۱۹۲۶ کي مکې معظمې ته ولاړ، په مارچ کي په ۱۹۳۹ کي بیرته هندوستان ته راغلی. په ۲۱ اګست ۱۹۴۴ په دین پور کي وفات شو.[3]

کله چي موږ د مولانا سندهي و افغانستان ته د تلو عوامل څېړو نو یو شمېر پېښې رامخ ته کېږي،مولانا عبید الله سندهي په هم دغه شپو کي له دیوبنده ډهلي ته راغلي وو په دا فکر وه، چي په رواجي اسلامي ټولنه کي د ژوندانه تېرولو دپاره ځیني اصول د قرآن د لارښوونو مطابق و توو بدلونونو ته ارتیا لري د دغه مقصد د تابیا دپاره یې په ډهلي کي نظارتهـ المعارف جوړ کړ، مولانا باور درلود چي د خدای پیژندني دپاره تر ټولو غوره لار اسلام دی که څه هم د مولانا په قول ځېنو مسلمانانود اسلام و ریښتونو کړو وړو ته ډېر زیان ور رسولی وو لاکن د خدای پیژندني اصله لار لااوس هم په اسلام کي موجوده وه[4].ځکه مولانا د دغه هر څه د تر سره کولو دپاره عملي ګامونه راپورته کړه. دلته حضرت شیخ الهند هم ډهلي ته راغلی وو او د مولانا سندهي سره یې ولیده و ده ته یې وه ویل چي تر څو په هند باندي د انګرېزانو واکمني برقراره وه که ته د دغه مدرسې له لاري لس یا شل کسان د ټینګې عقیدې مسلمانان جوړوې نو انګرېزانو به په زرونو خلګ ملحد یا زندیق جوړ کړي وي، د مولانا سندهي د شیخ الهند په هدف سر خلاص شو شیخ الهند ورته وویل چي د خپل فکر تکړه تکړه کسان سره رایو ځای که او د یو منظمه غورځنګ پېلول ضروري دی. مولانا سندهي په سندهـ پنجاب او پښتونخوا کي ډېر شناخت درلود نو دغو سیمو ته یې سفرونه وکړه، په ډهلي کي یې ډاکټر انصاري، مولانا محمد علي، مولانا شوکت علي او ابو الکلام ازاد سره را یوځای کړه، د پښتونخوا د یاغستان سفرونه یې وکړه د هغه ځای د خلګو سره یې اړیکي ټینګي کړې، د دوی موخه دا وه چي انګرېزان بې له زوره په بله لار له هندوستانه نه سو ایستلای. نو د دوی سره د مسحله ډغري دپاره یوه مرکز ته اړتیا ده چي سلاح سره راټوله کو او ځوانان تربیه کو مرکز به یې په ازادو قبائلو کي وي.

دلته په ۱۹۱۴ کي لومړی نړیواله جهګړه وموښته، د درستي نړۍ د مسلمانانو په څېر د هند د مسلمانانو هم د ترکیې د خلافت عثمانیه په لور سترګي کړې وې او و بلي خواته انګرېزان لګیا وه د خلافت عثمانیه ریښې یې له بېخه کښلې، او د ترکانو په ضد یې جګړه پیل کړه، پر ترکانو یې له اتو محاذونو برید وکړ، انګرېزانو پر عراق، بصره، عدن، سویز حنان کلا هم دغه ډول روسانو پر درو څلورو محاذونو حملې وکړې مسلمانان ډېر وارخطا سوه شیخ الهند مسلمانانو د ترکانو سره د یووالي او ملاتړ دپاره هر ډول هلي ځلي پېل کړې. شیخ الهند د دغه کار د پلي کولو دپاره شپه و ورځ پر ځان یوه کړه مولانا سیف الرحمان یې له دهلي او مولانا فضل محمود یې له پېښوره وروليږه چي دوی کلي په کلي په هر قام او زیي او خیلي وګرځي او دغه پیغام ورسوي، هلته یې حاجي صاحب ترنګزي ته وویل چي له خپل ټاټوبي وکوچیږې او د انګرېزانو له قلمروه د باندي ووزي او د دوی پر ضد مبارزې ته دوام ورکړي. هغه وو چي د سید احمد شهید د چمر قند مجاهدین هم ورسره مله سوه د انګریزانو په ضد مسلح مبارزه پیل سوه بریاوي یې تر لاسه کړې خو انګریزانو په خپله مکاري د پښتنو په قبائلو او مشرانو کي نفاق وکاره هلته یې افغانستان هم خپل ښه نیتی کړ، په نتیجه کي یې مجاهدینو شیخ الهند ته ولیکل چي زموږ سره د غښتلو کسانو کمي نسته لاکن سلا او رسد نه لرو که کارتوس او رسد موږ راولېږې، موږ د دښمن د هر ډول توپونو مقابله کولای سو، تاسو سمدستي د کوم دولت ملاتړ تر لاسه کړ. هغه وو چي شیخ الهند خپله اراده بدله کړه او دا یې اړینه

وبلل چي مولانا سندهي کابل ته ولیږي او په خپله استنبو ل ته ولاړ شي، شیخ الهند مولانا سندهي ته عمر وکړ چي کابل ته ولاړ شي د مولانا سندهي ښه زړۀ نه غوښتی خو د استاد امر خلاف یې هیڅ هم نه سو کولای نو ځکه یې کابل د تلو اراده وکړه. او په خپله شیخ الهند له هنده حجاز ته راغلی دلته یې د ترکیې د انور پاشا او جمال پاشا سره ولیده، د دوی څخه یې لیکل دستاویزات تر لاسه کړه تر څو پښتانه قبائل د انګریزانو په ضد نور پیاوړي کړي خو هلته د حجاز والي شریف حسین د ترکانو په ضد بغاوت پیل کړ، او انګریزانو شیخ الهند ونیوی مالټا ته یې واستاوی.

مولانا سندهي د شیخ الهند په امر کابل ته د تلو تراړ وتاړي د ډهلي څخه په پټه سندھ ته رارهي شو تر درو څلورو میاشتو د سندھ په یوه ګوښه کلي کي دومره پټ پاتیزي چي دلته د انګرېزانو استخباراتي شبکې د دۀ په یو ډول سیاسي هلو ځلو بېخي خبرېږي لانۀ، دلته دی د خلګو سره پرله پسې ډول لیدني کتني کوي، د هغوی څخه افغانستان ته د تلو دلاري معلومات تر لاسه کوي چي د دوی په خیال د سفر او لاري او چاري یې وسنجول، نو د شیخ عبدالرحمان سندهي په ملتیا یې له سندھ و بلوچستان ته سفر پیل کړ له غرونو او ریګونو له لاري یې تر څو ورځو د پرله پسې مزله پس په ۱۵م اګست ۱۹۱۵ د ښوراوک له لاري افغانستان ته راورسېده د ماښام د لمانځه وخت د ښوراک حاکم ته

ورغله ولي چي د دوی څخه پاسپوټونه و نو د ښوراوک حاکم ته شک پیدا شو چي دا څوک دي؟ لاکن د دوی په غوښتنه چي موږ په دولتي ساتنه کي تر کندهاره ورسوی هلته به موږ دولت ته اطمنان ورکو دا ډول یې چي څه نوري پوښتني ځیني وکړې چي حاکم مطمین سو نو هغه دوی دولتي مېلمانه وبلل او د دوی د کندهار د تلو ضمینه یې برابره کړه.[5] مولانا سندهي او ملګري په اته لس ورځي کي له ښوراوکه دکدني پر لار کندهار ته راورسېده.[6] په کندهار کي د ملا محمد حسن مېلمانه شوه چي د مولانا سندهي د پیر سید العارفین حضرت حافظ محمد صدیق بهرچونړي ناسته ګویه وو او مولانا سیندهي د سید تاج امروټي په ځای کي لیدلی وو، دوی د مخه لاسره پيژندل ملا محمد حسن چي مولانا سندهي ولیدی ډېر په خوشحال شو او د دۀ خورا تود هرکلی یې وکړ.

ملا محمد حسن دغه مېلمانه د محمدحسن توخي په سراچه کي ځای بر ځای کړه، په دغه شپو کي د کندهار والي محمد یونس خان وو چي پخپله هم یو لوی عالم او صوفي و، او د دیوبند د مدرسې د سرپرست مولانا رشید احمد ګنګوهي مرید او معتقد و، هغه هم د دغه میلمنو ډېر درناوی وکړ، د دوی هجرت یې منظور کړ، او و دوی ته یې افغاني تابعیت ورکړ او دوی ته یې د میاشتي دوه نیم سوه روپۍ ور مقرري کړې، د دغه تابعیت وروسته د انګرېزانو هم په دوی لاس نه شو لګیدلای، دوی خپل یو بل ملګری میا محمد علي د مولانا احمد علي صاحب ورور هم له کدني څخه چي دوی لومړی وار رالېږلی وو، کندهار ته راوغوښتی اوس دوی څلور نفره سوه یو پخپله سندهي صاحب او یو مولانا عبدالله لغاري او دوه دوی خادامن محمد علي او فتح محمد مشهور په شیخ عبدالرحمان . د کندهار د زعماو دا خوښه وه چي مولانا سندهي دي د ملګرو سره په کندهار کي پاته شي خو چون د مولانا سندهي انقلابي ایجنډه وه ځکه یې د کابل پر تګ ټینګار وکړ یوه میاشت دالته په کندهار کي وه، خرڅه یې هم تمامه سوه خو کله چي د کندهار والي په دا پوه شو چي نه پاتېږي ارو مرو کابل ته ځي. نو دوی ته یې د کابل له خزانې پنځه سوه روپۍ او د یوې میاشتي ټاکلی مبلغ پیشکي ورکړ، د اکتوبر میاشت وه مني وو په کندهار کي یخ وو دوی په دغه روپو د ځانو دپاره تودې جامې او د سفر خرڅ برابر کړ، د یوې نظامي ټولۍ سره چي له کندهاره کابل ته راتبدیله سوې وه د هغه سره یې مله کړه او د کندهار خلګو ډېر په مینه په مخۀ ښه ورته وویل. د کندهار والي پر رهداري ور ولیکل چي دا دولتي مېلمانه دي باید د دوی سره هر ځای درناوی وسي او ورسره یې د خپل وراره چي هغه وخت سپه سالار وو، محمد نادر خان په نامه یوسفارشي مکتوب هم ورکړ د دوی اشنایي د کندهار صوفي جان محمدهم یوسفارشي خط د سپه سالار نادر خان په نوم ورکړ.

له کندهاره چي رارهي شوه پنځمه ورځ غزني ته راورسېده قافلې دلته درې ورځي پړاو وکړ مولانا سندهي او ملګرو د غزني لرغوني یاد ګارونه او د نومیالیو زیارتونه وکړه دلته مولانا سندهي د غزني د پوستې له دفتره د سراج الاخبار مدیر جناب محمود خان طرزي ته یو لیک ورولېږه چي کي وي

لیکل، ""از ایام بو قلمون و فتنهائے گونا گو وطن مالوف را وداع کره رخ باین طرف کردیم و به سبب تولای مردان این خاک وبوم بر انگیختم خاطر از شام وروم"" له غزني بیا درې ورځې پس کابل ته راورسېده. په کابل کې مولانا سندهي د ښاغلي ابراهیم خان سره ډېره سوه چې هم دۀ وار له مخه لا کابل ته رالېږلی وو په حبیبه لیسه کې استاد وو د کراچې د مولوي محمد صدیق وراره وو او خپل پاته درې ملګري يې د علیا حضرت د مسجد په یوه حجره کې ډېره کړه، دوی په لار کې بېخرڅه سوې وه خپل څه شیان يې دلته خرڅ کړه ګزاره يې په پېل کړه. ابراهیم خان و مولانا سندهي ته د افغانستان لوړ رتبه مقامات او د هغو منصبونه هر څه جلا جلا ورو ښول چې لومړی خو ولیعهد نصر الله خان نائب السلطنه وو، خو اوس انګرېزان دا هڅه کوي چې د امیر حبیب الله خان مشر زوی عنایت الله خان ولیعهد کړي، امیر حبیب الله خان په راضي دی خو نصر الله خان نائب السلطنه په خوابدی دی خو اوس یو دریم شخصیت هم په پټه مخ په وړاندې روان دی د امیر حبیب الله خان کشر زوی امان الله خان مور يې علیا حضرت ده چې د اعتماد الدوله لور ده اعتماد الدوله د امیر عبدالرحمان لوی وزیر وو خو اوس تقاعد شوی دی، امیر حبیب الله خان د اختر په روځ مبارکي له ورځي او حاضر باشي ور معاف ده.

محمود طرزي نفر ولیده بیا ابراهیم خان او مولانا سندهي دواړه محمود طرزي ته د لیدو دپاره ورغله، طرزي يې په لیدو ډېر خوشحاله سو او د دوی پیژندګلوي يې له معین السلطنه عنایت الله خان سره وکړه د غازي امان الله خان سره يې ډېرې شپې پس ولید خو په داسې ډول لکه دی چې ولي عهد وي عنایت الله خان خپل کور د مولانا سندهي میلمستیا وکړه چې محمود طرزي هم په کې شامل وو.

بیا مولانا سندهي هغه لیکلونه چې د کندهار والي محمد یونس خان او صوفي جان محمد ورکړي وو سردار نادر خان سپه سالار ته ور ورسول، سردار نادر خان او د دۀ د کورنۍ وګړي د دیوبند د سرپرست مولانا رشید احمد ګنګوهي مریدان وه د مولانا سندهي په لیدو ډېر خوشحاله سو او د هر ډول مرستې ژمنه يې ورسره وکړه، د سردار عنایت الله خان په ذریعه يې نائب السلطنه نصر الله خان سره هم ولیده.

کابل ته د رارسېدو سره مولانا سندهي د دیوبند د یو شمېر فارغینو سره ولید د دې تر څنګ يې یو شمېر د هندي مسلمانانو هغه زعما هم ولیده چې د مولانا سندهي د راتګ له مخۀ لا کابل ته راغلي وه.

په دغه خلګو کې لومړی مولانا عبدالرزاق خان وو چې مولانا سندهي ورسره ولیده دی د میزان العدالت والتحقیق مشر وو، د دیوبند فارغ وو، دۀ هم د مولانا سندهي سره د هر ډول کومک ژمنه وکړه مولانا عبدالرزاق او معین السلطنه عنایت الله خان و مولانا سندهي ته وویل چې خپل خیالات، ملکي حالات او مقاصد پر یوه عریضه ولیکه او هغه نائب السلطنه نصر الله خان ته وړاندې کړه مولانا دغه هر څه ولیکل او عنایت الله خان ته يې ور وسپارل هغه و نائب السلطنه ته وړاندې کړه هغه د دغه عریضې په لوستولو ډېر خوشحاله سو او ورسره يې دا ورته وویل چې ستاسو د مطلب د پوره کولو د فیصلې

اختیار علیحضرت امیر حبیب الله خان ته حاصل دی د دۀ سره د لیدلو پس به تاسو ته د خپل کار اجازه درکړل شي.

په کابل کي لومړی میاشت ډېره په تنګ لاس پر تېره شوه بیا نائب السلطنه پنځه سوه روپۍ په میلمستیا کي ورولېږلې چي مولانا سندهي په هغو کي پنځوس روپۍ و مولانا عبد الله انصاري ته ورکړې چي دا خیرات کړه. کله چي د مولانا سندهي قافله له کندهاره راخوځیده په هم هغه نیټه د جرمني او ترکیې پلاوی چي راجه مهندر پرتاب او مولوي برکت الله ورسره وه د ایران له مرزه د کابل سیمي ته رارسېدلي وه، په غزني کي مولانا سندهي خبر سو چي دغه پلاوی کابل ته رارسېدلی دی.

دلته یوه میاشت د مخه لا د اسلامیه کالج ځیني لوستونکې کابل ته راورسېدلي وه خو هغه یې په کابل کي بندیان کړي وه. مولانا سندهي د ترکې او جرمني د پلاوي د غړو سره د دولتي شفاخانې د ترکي طبیب ډاکټر منیر بیګ په ذریعه پټي لیدني کتني کولې په دغه شپو کي د نظامي شفاخانې مشر ډاکټر الله جوایا خان هم هندوستانی و له هغه پس یې د امیر حبیب الله خان سره وکتل اعلیحضرت مولانا سندهي ته د هندوستاني ملت دپاره د کارکولو د ملا تړ ډاډ ورکړ، که څه هم په خپله امیر حبیب الله خان تر ډېره حده د برطانوي دولت تر اثر لاندي وو خصوصا خارجه پالیسي خو یې د یوه تړون په وړاندي مدام د برطانوي پالیسۍ تر اثر لاندي وه او په خپله یې د هیڅ کولو توان نه درلودی لاکن د مولانا سندهي کړن لاره خورا واضحه وه چي د انګرېزانو په ضد باید د جرمینانو او ترکانو ملا تړ وسي او په همدغه شپو کي چي د المان او ترکیې کوم پلاوی راغلی وه د هغو هم دغه موخه وه چي افغانستان په دغه نړیوال جنګ کي د انګریزانو پر ضد را وپاځیږي.

او و بلي خواته انګریزانو و امیر صاحب ته د درو کروړو پونډو د ورکولو لوظ کړی وو چي افغانستان دي له دغه جګړې غیر جانبداره پاته سي. د پروفیسر محمد سرور په نزد په دغه شپو کي کابل د اسیا سوئزرلېنډ جوړ شوی وو او دلته د هر سلطنت پوهان او سیاستمداران یو د بل په ضد په هلو ځلو اخته وو او مولانا سندهي پخپله هم دغه د بین المللي سیاست کش او بګیر په خپلو سترګو لیدی بلکې برخه یې هم وو.[7]

په کا بل کي چي په ۱۹۱۵ کي د هند کوم موقتي حکومت جوړ شوی وو د هغه لائف ټائم پریزیډنټ راجه مهیندر پرتاب وټاکل شو، د هغه په باب د دغه اثر او پېښو یو بل غښتلی نومیالی شاهد ښاغلی ظفر حسن ایبک دا ډول پرده پورته کوي:

"د راجه مهندر پرتاب په حیث د پریزیډنټ هند مقصد څه بل وه هغه د هندوستان د ازادیدو په وخت له هنده یو هندو دولت جوړول وو، مولانا برکت الله (چي د دغه حکومت وزیر اعظم ټاکل شوی وو) ولي چي د ډېره وخته له هندوستانه دباندي پاته شوی وو ځکه نو د هند په تازه احوالو او هلته د میشتو مسلمانانو په ارزښت نه وو خبر هر څه چي به راجا صاحب ویل دۀ به ورسره منل د الماني پلاوي غړو به

هم د راجا صاحب د قابليت له قبله هر څه چي دهٔ ويل هغه به يې ورسره منل. خو کله چي د الماني او اسړيلوي غړو د مولانا سندهي سره ليدني وسوې نو وپوهيدل چي راجه صاحب چي په برلن کي و الماني دولت ته د هندوستان د حالاتو او راتلونکي په باب کومي خبري کړې دي هغه له حقيقته ډېري لري دي او د هغو خبرو د پلي کېده ايمکان نه لري دوی کرار کرار وپوهيده چي په هندوستان کي د مسلمانانو شتون او د هغوی د ارزښت د منلو بغير کار پر مخ نه ځي. او په دې يې هم سر خلاس شو چي مولانا سندهي د هندوستان په حالاتو تر راجه مهندر پرتاب ډېر ښه پوهېږي او د دهٔ خيالات و حقيقت ته ورنژدې هم دي ورسره ورسره د سرحدي سيمو، افغانستان او هندوستان د مسلمانانو د ارزښت په باب غوره معلومات لري ځکه د المان او هندوستاني غړو د پلاوي تر منځ له دمخه موجود اختلافات نور هم زيات شوه د دغه پلاوي په راتګ هغه خلګ چي په افغانستان کي د انګريزانو مخالف وه هم ډېر خوشحاله وه. دا پلاوي دغه غوښته چي افغانستان دي د انګرېزانو په ضد جنګ اعلان کړي، خو د انګريزانو د پرله پسې فشار په وړاندي امير حبيب الله خان و دغه پلاوي ته وويل چي که د ترکانو او جرمنانو فوځونه د افغانستان تر پولو راورسېږي نو دی به د انګريزانو په ضد جنګ اعلان کړي.[8]

راجه مهندر پرتاب و پوهېدی چي د هند د موقتي حکومت پر مختګ د مولانا سيندهي بغير امکان نه لري، نو يې دی د دغه حکومت وزير داخله وټاکی. مولانا د دې هر څه ليدلو پس او د خپلو سياسي تجربو پخوالي دې ځای ته ورسوو چي پر خپل سياسي مرام باندي تجديد نظر وکړي. په دغه لړ کي د دهٔ ملګری د جامعه مليه ډلي استاذ مولانا محمد سرور داسي کاږي:

""مولانا سندهي د نړېوال اسلامي ورور ګلوي دپاره له هيواده وتلی وو هغه وخت د دهٔ او د ده د ملګرو دا خيال وو چي د سر په بيعه به لاهم د عثماني خلافت د ژغورلو هڅه کوو خو مولانا چي کابل ته راغلی وه يې ليدل چي د هر اسلامي هيواد خپلي ځانګړې اړتياوي وي او د هغه ځای وګړي مجبوره دي چي د خپلو هيوادونو ارزښتونو ته لومړيتوب ورکړي، دلته دی په دې هم پوهـ شو چي هر څوک له خپل هيواد خاوري او ځانګړو عنعنو سره څومره مينه لري، افغانان او هندوستانيان له مسلمان کيدو پرته دواړه خپله خپله قامي تنه هم لري، يو افغان هم دا نهٔ غواړي چي د يوه هندي تر لاس لاندي دي کار وکړي، دغه ډول هندوستانيان هم د يوه افغان و خاني منلو ته تيار نه دي، دا هغه لومړی ضرب وو چي د مولانا سندهي د مافوق قومي تصور و خواړی، دهٔ دا محسوسه کړه چي قامي وجود يوه مستقل حقيقت دی مولانا چي پر هندوستانيت څومره ټينګار کاوی او د بين الاقواميت بنياد چي د قومي وحدتونو پر بنياد ايښوی، ځکه نو دهٔ و هندي مسلمانانو ته وويل چي تر څو تاسو هندوستانيان جوړ نهٔ شی نه به مو په خپل هيواد کي عزت وي او نه به په نورو اسلامي هيوادونو کي تاسو ته به درنه سترګه کتل کيږي په کابل کي د تير کړو دغه څو کلنو څخه د مولانا سندهي افکار ډېر په ډاګه جوتېږي. مولانا لا په کابل کي وو چي د نړېوال جنګ پريکړه وشوه جرمنيانو ماتي وخوړه او د ترکانو خليفه بري اخستونکو اتحاديانو

بندي کړی. مولانا د ترکانو د خلافت د ژغورلو هر څه ختمیدل او د عثماني خلافت ړنګېدل، په خپلو سترګو ولیدل د اسلامي ورور ګلوی هغه څه ناڅه مرکز چي وو هغه هم له منځه ولاړي، د هندي مسلمانانو د سیاست هغه دوره چي د بلقان او طرابلس له نښتو پیل شوې وه، او د کوم رویه چي د ترکي د خلافت په پیاوړتیا په هندوستان کي خپل اسلامي وجود درنول وو خو دا هر څه د ترکیې له ماتي سره ختم سوه او په هند کي اسلامي سیاست بله بڼه غوره کړه مولانا محمودالحسن چي د مالټا له بند راخلاص سو په کانګریس ګډ شو نور ملګري یې لکه مولانا محمد علي ډاکټر انصاري مولانا شوکت علي او ابو الکلام ازاد هم په کانګریس ګډ سوه او په دغه وختو کي چي په کابل کي د کانګریس کمیټۍ ځانګه پرانستل سوه مولانا عبید ا لله سندهي یې مشر وټاکل شو، او مولانا په دا وپوهېدی چي دا وخت د مسلمانانو د سیاست رخ باید څه ډول سي.........![9]

په ۱۹۱۹ کي چي کله امیر حبیب الله خان شهید یږي په دغه شپو کي مولانا سندهي په جلال اباد کي تر تاکیب لاندي وو خو کله چي امان الله خان واک ته رسیږي سمدستي مولانا سندهي ډېر په راز دانه طریقه له جلال اباد کابل ته راغواړي د هغه د حریت خوښوني او خیالاتو څخه له پخوا لامتاثر وو، دۀ د مولانا سندهي په لیدو بې اختیاره پر ږغ کړه" من همو هستم که باشما ملاقات کرده بودم" ‹اشاره یې د علامه محمود طرزي په کور کي هغه مېلمستیا ته وه چي مولانا سندهي دامان الله خان سره لومړی ځل سره لیدلي وه هغه وخت هم مولانا سندهي د سردار نصر الله خان او سردار عنایت الله پر ځای سردار امان الله خان د امیر حبیب الله خان ولیعهد ګڼلی وو مولانا سندهي هغه وخت هم امیر امان الله خان ته ویلي وه چي "من بجز شما کسې رالائق نمیدانم که والي افغانستان باشد" په همدغه نسب امان الله خان د من هوستم خبره ورغبرګه کړه مولانا عبدالله لغاري لیکي چي امان الله خان مولانا سندهي خپل وزیر اعظم جوړاوه خو مولانا سندهي ورته وویل چي دغه لویه رتبه کوم افغان ته ځکه هغه چي له ما کومه مشوره اخلي هغه به زۀ ورکوم ځکه چي زما په وزیر اعظم کولو به افغان سرداران له تا خوابدي شي د افغانستان د هر ډول مصلحت او خیر غوښتني او استقلال دپاره زۀ هر ډول کومک ته تیار یم خو نه وزیر اعظمۍ ته.امیر امان الله په دې ډېر خوشال شو.[10]

د امیر امان الله خان په همدغه لومړنیو شپو کي د انګریز په ضد د افغانانو د جنګ کولو او د افغانستان په استقلال ګټلو کي د مولانا سندهي ډیر مهم رول دی. مولانا سندهي په هغه بېخي تېرو څو کسانو کي وو چي امیر امان الله به اعتماد پر کاوه او د هغو هري مشورې نه یې غوږېنوي امان الله خان د افغانانو سره سره د سیمي د ټولو مسلمانانو په غم ډېر غمجن وو خصوصا په هندي مسلمانانو خو یې ډېر زړۀ سوځي کوم چي د انګریزانو تر تسلط لاتر اوسه لاندي وه او دا هم هغه انګریزان وه چي دۀ استقلال ځني تر لاسه کړی وو. په سیمه کي د ترکې د خلافت د ړنګېدو پس امیر امان الله خان یو داسي مسلمان حکمران وو چي د سیمي د هیوادونو مسلمانانو هیلي او ارمانونه پوري تړلي وه ځکه نو د وخت یو بل

ستر شخصیت علامه اقبال هم د خپل مشهور اثر پیام مشرق انتساب د غازي امان الله خان سره وکړ او په خپلو لومړنیو ۸۱ شعرونو کي یې له امیر صاحب څخه وغوښتنه وکړه چي راپاڅه د خپلو نیکه ګانو په څېر چي د هند مسلمانان یې د مرهټوو له ظلمه خلاص کړي وه ته هم موږ د انګریزي استعمار له شکنجې ازاد که.

ای امیر کامګار ای شهریار	نوجوان و مثل پیران پخته کار
عزم تو پائنده چون کهسار تو	حزم تو اسان کند دشوار تو
همت تو چون خیال من بلند	ملت صد پاره را شیرازه بند
تاز کن ائین صدیق و عمر	چون سبا بر لاله صحرا گزر

خیز اندر گردش آور جام عشق
در قهستان تازه کن پیغام عشق[11]

په ۱۹۲۲ کي مولانا په کابل کي کانګریس کمیټي جوړه کړه کوم چي د ډاکټر انصاري په هڅو منظوره هم شوه مولانا د هند د ازادۍ د نهضت سره سره د افغانستان د ښه سباوون دپاره هم هلي ځلي کولې. خو د افغانستان استقلال د انګریزانو پر زړه داغ پاته شو او دوی پوهېده چي په دغه هر څه کړو کي د چا او چا کوم رول وو ځکه یې په تدریج سره د هر یوه د ریښو د کښلو ډېر په سړه سینه تدبیرونه وکړه او دوام یې ورکړ. لومړی مولانا سندهي د انګریزانو د قهر شومه سو پر غازي امان الله خان یې ډول ډول فشارونه راوستل لومړی دا چي مولانا دي د هندوستان د خپلواکۍ هلي ځلي پرېږدي خو چي مولانا سندهي انکار وکړ نو انګریزانو د افغانستان پر دولت دا فشار راوستی چي مولانا سندهي له افغانستانه وه باسي هغه وو چي مولانا سندهي په افغانستان کي د اوو کالو او د اوو ورځو تیرولو پس په ۲۲م اکتوبر ۱۹۲۲ له کابله او د روسیي په لور رهي سو[12].

په افغانستان کي د انګریزانو د پرله پسې د سیسو په نتیجه کي امان الله شاه غازي هم له تخته محروم شو، په اټلي کي پردیس اوسېدی مولانا سندهي هم د خپل لالهاند د سیاسي ژوند د تړاکونو له ډهلیه کابل ته له کابله ماسکو ته له ماسکو ترکیه او له ترکیه و ماسکو ته رسولی وو. امان الله شاه غازي چي کله حج ته ورغلی وو هلته یو ځل بیا دواړو زعماو د خپل خپل ژوند ژوندانه خوږې او ترخې خاطرې سره شریکي کړې، چي څه ډول انګرېزانو زموږ د دواړو سره کرغېړني چاري تر سره کړې. [13]

## ماخذات او حوالې

[1] ذاتي ډائري مولانا عبيد الله سندهي ، مرتب عبدالقدوس قاسمي ،مکي دارالکتب يوسفي مارکيټ ، لاهور، ۱۹۹۵ ،مخ ۱۸
[2] مولانا عبيدالله سندهي، پروفيسر محمد سرور، سنده ساګر اکېډمي لاهور ،۲۰۰۲ ،مخ۲۱
[3] افادات و ملفوظات حضرت مولانا عبيد الله سندهي، مرتبه محمد سرور،سنده ساګر اکيډمي، لاهور، ۱۹۹۶ ،مخ ۸
[4] مولانا عبيد الله سندهي،مخ ۲۴
[5] کابل ميں سات سال ، مولانا عبيد الله سندهي، طابع محمدصديق، سنده ساګر اکيډمي، لاهور، اکتوبر ۱۹۹۵ ،مخ ۲۵
[6] مولانا عبيد الله سندهي کی سر ګزشت کابل از مولاناعبدالله لغاري، مرتبه ډاکټر غلام مصطفٰی خان، قومي اداره برای تحقيق و تاريخ و ثقافت ،اسلام اباد ، ۱۹۸۰ ،مخ ۳۲
[7] مولانا عبدالله سندهي،مخ ۲۵
[8] خاطرات اپ بيتي ظفر حسن ايبک ، مرتب ډاکټر غلام حسين ذوالفقار ،استنبول يونيورسټي ادبيات فيکلټي، سينګي ميل پبليکيشنز ، لاهور ، ۱۹۹۰، مخ ۱۰۱
[9] مولانا عبدالله سندهي، مخ ۲۶
[10] مولانا عبيد الله سندهي کي سر ګزشت کابل، مخ ۱۸۴
[11] پيام مشرق،علامه محمد اقبال، طبع اول لاهور يکم مئ ۱۹۲۳ ،مخ ط تا ع
[12] مولانا عبيدالله سندهي،مخ ۲۵- ۲۶
[13] افادات و ملفوظات مولانا عبيد الله سندهي، مخ ۵۳